# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| زن پیشتاز | Vanguard Woman |
|---|---|

ژباړه: فرهاد ویاړ
۲۶ سپتمبر ۲۰۱۵

# د ښځو سور پوځ

## (۲)



لږ وروسته، هغه قومندان چې د سرو زرو غاښونه يې لرل د نان باتيان يو چارواکی يې راوغوښتو او په موسکا يې ورته وويل:«دا دوه کسان دلته راغلي دي او ورسره د سپين زرو ډيرې سکې دي.» د دې خبرې په اوريدو سره هون چانګ چنګ په قهر شو، وې ويل:« ته د دې ځای د دفاعي پوځ سرتيری نه يې، بلکې يو غل يې، قومندان مو راوغواړئ!!»



د زندان مسوول پوه شو چې هغه معمولي سړی نه دی، ژر يې منډه کړی چې نان باتيان خبر کړي. کله چې نان باتيان بلنليکونه او د **کواګ تنګ** او **هائی نان** د مخورو شخصيتونو نومونه پر بلنليکونو وليدل، ګمان يې وکړ چې هغه حتماً يو مهم شخصيت دی او چيغه يی ووهله:«بی ادبه! تا زما له ميلمه سره څنګه بی نزاکتي کړی!»



نان باتيان ژر زندان ته راغی او وې ويل:«اوه صاحبه! نوکر مې هسې شوده دی. بخښنه غواړم، راځئ ميلمستون ته تشريف راوړئ.»



نان باتيان غوښتل چې د هغه له دولت او شهرت څخه استفاده وکړي او پوځي سامان آلات تر لاسه کړي او سور پوځ نابود کړي. د همدې موخې لپاره يې ميلمستيا جوړه کړه او يو لوټمار قومندان يې هم دې ميلمستيا ته راوبلو.



په جوړه شوی میلمستیا کې نان باتیان وویل:«هون ورورە! د وطن د آبادولو لپاره کمونیستان باید نابود کړو.» هغه ځواب ورکړ:«بی له شکه دا زمونږ د ټولو دنده ده چې د خپل ښایسته هیواد څخه ساتنه وکړو، خو دا وخت زه د خپلو نیکه ګانو د هدیرې زیارت ته راغلی یم، هیله مندم چې په راتلونکي کې د دې کار د پلی کولو لپاره سره مشوره وکړو.»



نان باتیان امر وکړ چې نن شپه جونګ هوا خرڅه کړي. د زندان مسوول د یو بل مزدور سره هغه زندان ته چې سطحه یې له اوبو ډکه وه، راغلل.



جونګ هوا له خپل ځایه ټوپ کړئ او بی ځنده یې د زندان د مسوول پښه ونیوله او هغه یې په اوبو کې واچو.



زړه وري جونګ هوا بی له دې چې د زندان او د ځنځیرونو څخه ډار ولري، یو ځل بیا کوښښ وکړ چې وتښتي.